عبدالحفیظ ملیار ۲۰۱۰/۸/۱۹

## ګرانه ننګرهاره

# د افغانستان د ازادي د ورځ په وياړ



که ووايي سلام زما په شاه امان الله خان باندی
دا ملی اتل ملی رهبر او قهرمان باندی
ګرانه ننګرهاره

دا وه د عزت ننګ او ناموس او حريت مين
دا د ازادی او او سرلوړی او شرافت مين
قبر يي ورته وينځه د عطرونو په باران باندی
ګرانه ننګرهاره

ګرانه ننګرهاره ماته بيا د ګلو هار جوړ کړه
بيا د ملنګ جان د ارمانو د زړه پرهار جوړ کړه
که جوړه پښتونخوا شی بيا بي ږدم فخرافغان باندی
ګرانه ننګرهاره

جار شه له ملالی د هغی غيرتی ننګ ځينی
بيا د خوشحالخان دا د قلم او توری شرنګ ځينی
درود د رحمت وايه په نا زو او احمد خان باندی
ګرانه ننګرهاره

لاړ شه ميرويس خان ته په شملی يي عطر وشينده
ځومره چی کيدای شی په جرګی يي عطر وشينده
بيا می سلام وايه لوی اتل مو اکبر خان باندی
ګران ننګرهاره

ای حفيظ ملياره مونږ ښايسته ښايسته ګلان لرو
پت چی د وطن ساتی مونږ داسی شازلميان لرو
لوړ د وی بيرق د ازادی افغانستان باندی

ګرانه ننګرهاره


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ